خوشحال آصفی
۲۰۱۵/۰۹/۱۷

د ژوندیو هدیره

داسي حال کي چي لا هم په هيواد کي دننه د ځوانانو، ماشومانو او ښځو په منځ کي اعتياد مخ پر ډيريدو دی او حکومت د هغي د مخنيوي له پاره کومه ځانګړي حل لاره نه لري؛ د امريکا ولسمشر بارک اوباما د افغانستان، برما او مکسيکو په شمول د نړۍ ۲۲ هيوادونه د مخدرو موادو د توليد او ترانزيت ستر مرکزونه وبلل. اوباما وويل چي افغانستان له تېرو ۱۶ يا ۱۵ کلونو راهيسي د نړۍ د کوکنارو تر ټولو ستر توليدوونکی هيواد دی. دا په داسي حال کي ده چي يوازي ځوانان د نشو قربانيان نه دي، بلکي په وروستيو کلونو کي د ميندو او ماشومانو په منځ کي هم دغه شميره لوړه شوې ده. په يو شمير ولايتونو کي هغه ميرمني چي په کرکيله کي په کار بوختې وي خپلوماشومانو ته تریاک ورکوي او دغه ځه د عمر په زياتيدو سره د ماشومانو په نشو د رورېدي کيدو سبب ګرځي.

په ښکاره د نشه يي توکو خرڅلاو، د ځوانانو بيکاري، خراب امنيتي وضعيت، بهرنيو هيوادونو ته کډوالي، کورنی تاوتريخوالی، له رورېدو کسانو سره ناسته پاسته او مخدره موادو ته اسانه لاسرسی؛ هغه اساسي عوامل دي چي په نشه يي توکو د خلکو رورېديدا کي مرسته کوي. د نشه يي توکو پرضد د مبارزې وزارت د معلوماتو له مخې په ۲۰۱۵ کال کي د معتادينو او هغو کسانو شمېر چي په بدن کي يي د مخدره توکو استعمال مثبت ارزول شوی دي نيم ميليونو ته رسيږي. ددغه رورېدو کسانو ډيره برخه يي له ايران او نورو بهرنيو هيوادونو را ستانه شوي افغان کډوال، په کور کي ناستي ميرمني، کليوال ځوانان او بې سرپرسته ماشومان دي.

همدا اوس د کابل په پل سوخته، کوټه سنګي، کارته مامورين، کارته سې، ده بوري او د دريمې، پنځمې او شپږمې ناحيې ډيری سيمې د ژوندیو انسانانو په هديره بدلې شوي دي، دلته داسي خلک تر سترګو کيږی چي ويښته يي ببر دي، بدن يي مردار دی او يوازې هډوکي ور پاتي دی. دوی ټول د پوډرو په اعتياد اخته دي. د اعتياد شومې پديدې نه يوازې ځوان قشر تر خپل اغيز لاندې راوستی دی بلکي يو شمير ميرمني او ماشومان هم پر دغه شومه پديده اخته شوي دي . خو پوښتنه دا ده چي په افغانستان کي اوسني او تيرو حکومتونو او نړيوالي ټولنې په دي برخه کي څه کړي دي؟ په خپله د افغانستان حکومت د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې وزارت کومې لاسته راوړنې لري؟ او له ۲۰۰۱ کال افغانستان ته د امريکا او نړيوالي ټولنې له راتګ وروسته نشه يي توکو څومره پراختيا کړې ده؟

په افغانستان کي د طالبانو د حکومت له ړنګيدو او د امريکا له راتګ وروسته دلته د نشه يي توکو پر ضد مبارزه کي کوم ځانګړی پرمختګ نه دی شوی. دلته د نشه يی توکو پروړاندی د مبارزې په نامه چي څه ترسره کيږي؛ بنسټيز نه دي ځکه دا مبارزه پرله پسې مبارزه نه ده، د افغانستان د نشته يي توکو پر ضد د مبارزې وزارت؛ فقط د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې نړيواله ورځ لمانځي او همداشان نړيواله ټولنه هم فقط خپلې کلنۍ سروې او ريپوټونه وړاندې کوي او بس. هغه شان چي په ۲۰۰۸ کال د نړيوال سازمان په غونډه کي پرې پرېکړه وشوه او په ۲۰۰۹ کال کي هم تاييد شوه؛ هيڅ کار نه دی شوی.

حل لار

لکه څرنګه چي دا موضوع يوازې افغانستان پورې اړه نه لري او يوه نړيواله ستونزه ده . د نشه يی توکو پروړاندې د مبارزې نړيوال سازمان ډېر مسوولیتونه لري. په دې معنا چي د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کي بايد د يو منظم پلان له مخې کار وشي. هغه شان چي په ۲۰۰۸ کال د نړيوال سازمان په غونډه کي پرې پرېکړه وشوه او په ۲۰۰۹ کال کي هم تاييد شوه . اساسي موضوع د نشه يی توکو د توليد د مرکزونو له منځه وړل دي، د کرلو بديل رامنځته کول دي، او بزګرانو ته د بديل کښت د کرنې پراختيا لپاره زمينه برابرول دي. بيکاري له منځه وړل دي، د هيواد امنيتي وضعيت ته جدي پاملرنه اړينه ده، په بازانو کي په خلاص مټ د خرڅلاو مخنيوی اړين

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دی، د عامې روغتیا وزارت له لورې په مرکز او نورو ولایاتو کې د روږدو کسانو د درملنې د مرکزونو زیاتول اړین دي، په پارکونو او نورو ځایونو څخه چې پوډریان په کې پوډر څکوي؛ جمع کول او په جدي توګه ددوی درملنه په کار ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ